# زېري

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

پنجشنبه (۱۳- ۱۸ مه) ګڼې، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۴۰۴- ۴۱۰مه) ګڼه، د ۱۴۰۱ل.کال د تلې (ميزان) مياشتې ۱۴مه، د ۱۴۴۳هـ.ق. کال د ربيع الاول د مياشتې ۹ مه او د ۲۰۲۲ز.کال د اکتوبر ٦مه


شکونه ترې طواف کوي، ايمان ځومره ښايسته دی
د خدای د نور هينداره، مسلمان ځومره ښايسته دی
ناګاره! يو، يو مه شمېره په کُل کړه بسم الله
حمزه ځومره سپېځلی و او ګران ځومره ښايسته دی
- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -
(فضل ولي ناګار)

اسدالله غضنفر

## د لويو مقصدونو ښتن

استاد حبيب الله رفيع ته دې الله تعالی اوږد عمر او ښه صحت ورکړي. دی که خپلې خاطرې وليکي، ليکوال خېلو ته به الهامونه پکې وي او زموږ د معاصر فرهنګي تاريخ په تدوين کې به ډېرې پکار راشي. ده چې د ۱۳۴۰ لسيزې په پيل کې د کابل په مطبوعاتي ادارو کې کار پيل کړ، يوه نيکمرغي يې دا په نصيب شوه چې له لوی دانشمند پوهاند عبدالحی حبيبي سره يې وپېژندل. ځوان رفيع ته يوه ورځ پوهاند حبيبي وويل چې که ته د ليکوال په توګه واقعا کار کوې نو داسې کسان به پيدا شي چې خبرې درپسې وکړي، خو ته به ځواب نه ورکوې ځکه ځواب ورکول دې له کاره باسي او د هغوی مقصد همدا وي چې کار ونه کړې.

استاد رفيع ته، چې د ليکوالي د کار په ابتدأ کې د معارف وزارت د عرفان مجلې مهتمم و، د مجلې مدير هم جالبه خبره کړې وه. هغه ورته ويلي و چې په مجله کې خامخا تېروتنې پاتې کېږي خو تر وسه وسه کوښښ کوه د مجلې په نوم، ګڼې، فهرست، د ليکوالو په نومونو او د مقالو په نومونو کې هېڅ تېروتنه ونه شي.

له استاد رفيع مې دا دواړه خبرې په ۱۳٦۰ کلونو کې اورېدلې وې او همېشه مې يادې وې خو داسې ډېر کېږي چې يو نصيحت د زړه له تله ومنې مګر په عمل کې دې بيا مزه نه وي.

د ۱۳۸۸ په ژمي کې په نيدرلنډ (هالنډ) کې افغاني کلتوري ټولنې د ډاکتر مبارک علي د مقالو يوه ټولګه چې ما (د تاريخ ننداره) په نوم ژباړلې وه، خپره کړه. تر چاپ له مخه مې متن يو ځل بيا وکوت او پښتی ته ځير شوم خو له چاپه وروسته مې پام شو چې په پښتی باندې زما نوم شته او د ليکوال نوم نشته. آيا ما دقت نه و کړی؟ ما خو د استاد رفيع هغه چې د مجلې مدير ورته کړې وه هېڅ وخت هېره کړې نه وه، نو داسې ولې وشول؟ دې پوښتنو ته يو اټکلي ځواب لرم او هغه به وروسته درسره شريک کړم. اوس به دا ووايم چې د تاريخ ننداري د چاپ په خوند پوه نه شوم او څه موده وروسته چې خواږه دوست باړکوال مياخېل د مبارک علي لپاره کتاب وغوښت، له شرمه مې ور وانه ستاوه.

د تاريخ ننداري په چاپ څو مياشتې نه وې تېرې چې زما خپل کتاب (د نثر ليکلو هنر) چاپ شو. له خپرېدو څو اونۍ وروسته استاد صميم په تيلفون کې راته وويل چې کاشکې يې نوم (د نثر هنر) وای! دې خبرې حيران کړم، ځکه زما په ذهن کې يې نوم له کلونو راهيسې (د نثر هنر) و او تر همدې شېبې مې هم فکر کاوه چې (د نثر هنر) په نوم چاپ شوی دی. چاپ شوی کتاب له ما سره و، څو ځله مې اړولی را اړولی و او تر چاپ له مخه مې يې پښتی په ځيرتيا کتلې وه.

په ۱۳۵۷ لمريز کال کې د اکاډميسين سليمان لايق د شعرونو ټولګه د (يادونه، درمندونه) په نوم خپره شوه. هغه وخت مې واورېدل چې د کتاب نوم په چاپ کې غلط شوی، اصلي نوم يې (بادونه، درمندونه) دی، څو کاله وروسته چې دغه ټولګه بيا چاپېدله، په اصلي نوم خپره شوه. که څه هم زما دا کيسه په ياد وه، خو په بل چاپ کې مې د نثر ليکلو هنر د نوم بدلولو اراده ونه کړه ځکه فکر مې کاوه چې نوی نوم ممکن ځينې لوستونکي تېرباسي او په زاړه شي د نوي ګومان وکړي.

د تاريخ ننداري له لومړي چاپه څو کاله پس چې ګران ملګري عزت الله ځواب راته وويل چې د کتاب لومړی چاپ ټوکونه ختم شوي او مازديګر کتابپلورنځی غواړي بيا يې خپور کړي، سخت خوشحاله شوم. دا ځل مې نو پښتی ته سم پام و.

د نثر ليکلو د هنر يوه بله کيسه هم لرم. يوه ورځ يوه زلمي تيلفون را وکړ، ويې ويل چې د کتاب نوم د ابجدو په حساب دومره کېږي او ستا نوم دومره دی، نو... ده ورته يو عجب حساب کړی و چې اوس مې هېر دی، خو ما هغه وخت د ده محاسبه ګډه وډه کړه، ما ورته وويل چې دغه نوم په سهوه کې اېښودل شوی دی. دا کيسه مې تر دې پورې وکړه چې موږ ته که څوک ښه ښکاره شي، بيا يې په تېروتنو کې هم حکمتونه پيدا کوو. البته دا بيا بله تېروتنه ده چې په ابجدو کې حکمت وينو. حروفو ته عددي قيمتونه په پخواني شعر کې د يو چا د مړينې يا بلې پېښې د بيان لپاره پکارېدل او دا يو ادبي صنعت و

۲مخ

خېړنپوه مولاجان تنيوال

## نړۍ والې ژبې (درېيمه برخه)

د جوړښت له مخې اېسپېرانټو د نورو مصنوعي ژبو په پرتله ډېره اسانه ده. دا ژبه هېڅ ديفتانګونه (Diphthong) يوناني ويی دی لومړی معنا يې دوه غږونه دي.) نه لري. خج پکې تل تر وروستۍ هجا نه په مخکينۍ برخه باندې راځي، ګرامر يې ځومره چې ممکنه ده کم او له قاعدې سره برابر دی، د ساري په ډول ټول نومونه د جنس په پام کې نيولو څخه پرته په <u>- o</u>، ستاينومونه په <u>- a</u> او قيدونه په <u>- e</u> پای ته رسېږي. په konjugation ( لاتين ويی دی.) کې په يوه ټاکلي وخت کې د ټولو اشخاصو لپاره يواځې يو فورم شته له دې سببه د personal praenomen کارول اړين دي. د وروستۍ څپې د هجا د واول بدلون د modus يا tempus تغيير را منځته کوي لکه: <u>mi estas</u>«زه يم»، <u>mi estos</u> «زه به يم»، <u>mi estis</u>«زه وم .«د جنس د بيان يا معلوماتو لپاره هېڅ بېل او ځانته فورمونه نشته او د suffix په واسطه په نخښه کېږي د نمونې په ډول: patro »پلار«، patrino »مور«، knabo »زوی«، knabino »لور.«

اوس په Esperanto ژبه کې يو لنډ مطلب په لاندې ډول څرګندېږي:

Mi volus foriri pli frue, sed, prola al-veno de mia patro, mi devos atendi, gis la ernuaj tagoj de la proksima semajno.

د پورتنۍ جملې ژباړه: زه په رښتيا غواړم چې لاړ شم، خو د خپل پلار د راتګ په وجه بايد

۲مخ

څېړندوی محمد طاهر شرر

## د شعر او ادب ارزښت او ګټې

له ډېرې مودې راهيسې په ټولنيزه شبکه فيسبوک کې ګورم چې ځينې دوستان په ټوليزه توګه د شعر او په عمومي توګه د ادب له ښېګڼو سترګې پټوي، ځينې وايي چې ټولنه په ټکنالوژۍ او محسوسي شيانو پرمختګ کوي نو د دې پړاو چې شعر وليکو بايد عصري علومو ته مخه کړو! ځينې نور بيا وايي چې شعر ماته خواړه نه شي راکولی نو اړتيا هم ورته نه لرو او تش د وخت ضياع ده.

په سر کې بايد دې خبرې ته اشاره وکړم چې ادب په عموم کې په ښکلي سبک د واقعتونو تعبير دی چې پر ژبه ولاړ دی، له واقعتونو څخه مو موخه ټولنه ده، چې په ټولنه کې ضد او نقيض حرکتونه وجود لري، په طبيعت کې غرونه، سيندونه، خوړونه، ځنګلونه.... وجود لري، د انسان په وجود کې د وېرې او هيلو جګړه روانه ده، او هر هغه خيالونه او فکرونه چې يې د عقل په مدار کې تاوېږي که يې وغواړي يا نه ټول يې په کړو وړو کې راڅرګندېږي.

بې له شکه چې د ادب اهميت همدې عناصرو ته رسېږي، ادب موږ په ټولنه باندې زيات پوهوي، د ټولنې دردونه را په ګوته کوي، چې وروسته يې پوهان په حل کولو کې مرسته کوي، همدارنګه د تېرو تمدونونو او ملتونو په اړه معلومات راکوي، د بېلګې په ډول، په اورنګ زيب څلور سوه کلونه واوښتل خو موږ يې د خوشال خان په شعرونو کې د هغه وخت ضرورتونه او اړتياوې ښې درک کولی شو، خوشال خان څلور سوه کاله پخوا د پښتنو د بې اتفاقۍ چيغه کړې، د دوی مېړانه يې ستايلې خو د دوی په ناپوهۍ يې افسوس کړی دی، که پنځه سوه کاله وورسته هم څوک د شپون صاحب د سمڅې ياران ولولي نو د افغاني ټولنې د دغه وخت ټول واقعتونه به په کې ويني،

مصري ټولنه به د نجيب محفوظ په ناول کې وپېژنو چې څه غوښتنې لري او څه ته اړتيا لري، په نولسمه پېړۍ کې به فرانسوي ټولنه او پاريس د فرانسوي ليکوال بالزاک په ناول کې ووينو، مارکسي فيلسوف په څرګند ډول وايي: د بالزاک ناول څخه چې د فرانسې سياسي او ټولنيز ژوند انعکاسوي، د اقتصاد پوهانو او ټولنپوهانو څخه يې په غوره او ښه ډول انعکاس کړی دی.

له دې پرته ادب نورې ښېګڼې او ارزښتونه هم لري، ډېرې سيمې موږ د شعر، ناول او ډرامې له برکته پېژنو، همدارنګه ادب له موږ سره د بشري طبيعتونو په لا پېژندلو کې مرسته کوي،همدا وه چې د روسی مشهور ناول ليکونکي داستايوفسکي ناول د کرامازوف وروڼه د دې لامل شو چې فرويد ته (عقده اديپ) نظريه الهام کړي، همدارنګه له ميلاد څخه څلور پېړۍ وړاندې لرغون يونانيان د ادب د اهميت په اړه له ډېرو بحثونو وروسته دې پايلې ته ورسېدل چې ادب انساني نفس له بدو هيلو بدشګومه احساساتو نه پاکوي، چې دې ته يې د پاکوالي نظريې نوم ورکړ.

له مشهور عربي ليکوال او نقاد عقاد نه د ادب او ښکلو هنرونو د اړتياوو په اړه وپوښتل شول هغه وويل: «يو تن اويا کاله له سترګو پرته ژوند کولی شي خو اويا ورځې له دوډۍ پرته ژوند نه شي کولی او دا هېڅوک نه شي ويلای چې دوډۍ له سترګو نه ډېر ارزښت لري، که دوډۍ لاس ته راوړو له ټولو ژونديو سره برابر يو خو که ښکلا تر لاسه کړو نو نه يوازې ژوندي يو بلکې په غوره ولس کې مو غوره ګرځوي،د خپل احساس ښه تعبير کولی شو، خو اړتياوې د ژوند تر ټولو ټيټ پړاو دی، هغه چې موږ لوړ پړاو ته رسوي هغه هنرونه دي.»

په دې عصر کې موږ ادب ته ډېره اړتيا لرو، ترڅو د ټکنالوژۍ له ناخوالو، د صناعتي او فرهنګي يرغل څخه خلاص شو،که علمي پرمختګ موږ ته د ښه ژوند وسائل په لاس راکوي خو په دې نه توانېږو چې د ښکلا هغه ثقافت په لاس راکړي چې موږ پرې د خپل

۲مخ

داد محمد ناوک

## د ښـــار شاعـــري

زه! شاعري يا د پند له پاره لولم يا د خوند له پاره؛ خو دا بايد ومنو، چې هغه پند سرې ښه اورېدای شي، چې په خوند کې نغښتل شوی وي؛ مګر دا بيا بېل بحث رازېږوي، چې د خوندونو شکل هم توپير سره لري. اما هر چاته د خپل (خپلتوب) په خاطر (خپله څکه) معياري څکه ښکارېږي؛ خو زما بيا د خوند له اړخه لوستل کمزوري څکه وي، چې موږ لا هم نږدې له هرڅه نه د مادي ګټې تمه کوو او هغه څه چې اروايي سکون يا هم مانيز قوت راکوي، پردي راته ښکاري.

شاعر ښايي څکه خپلې خبرې سره پېيلې کړې وي، چې يو موسقيت او اهنګ هم پکې پروت وي او پر مخاطب لوري اثر هم وکړي؛ خو زموږ د ځينو شعرونو تفصيل او تعبير کلکې مطالعې ته اړتيالري، چې زه تل له ملګرو سره دغې خبرې ته په کتلو سره همدا برخه د (ادب د ادب له پاره) ګڼم. کېدای شي، دغسې شعرونه څکه ويل شوي وي، چې که شاعري ښخې بربنډه وي، نو بيا خو به پيغام هر چاته روښانه ښکاري، په داسې حال کې چې زه په خپله په دې اند يم، چې د يو ښه شعر ځانګړنه دا ده، چې هرڅوک ترې بېلابېل تعبيرونه واخيستلای شي او همدارنګه د ښه شاعر همدا ځانګړنه ده، چې د ټولنې له هرې طبقې مينه وال ولري. دغه د مينه والو موندنه په شعري قوت پورې تړلې خبره ده او د شعري قوت درک په شعري ذوق پورې او په هره ټولنه کې شعري ذوقونه شته، چې پالنه يا بداينه يې شاعران ښه کولای شي.

(زه د ښار هغه شاعريم) د ښاغلي اجمل تورمان نوې شاعري ده، په دې معنا هغه څه چې ده شاعرانه کړي يا مخکې نه وو شوي، يا هم ډېرلږ. خو ايا د ښار مصنوعي ښکلا او حتی تر ډېره بريده مصنوعي چال چلند، يارانه او آن مصنوعي ژوند پر شاعرانه کولو ارزي؟ د ښار شاعري به په کلي کې هم لوستونکي ولري؟

که څوک په ښار کې اوسي؛ نو د کلي ګودر که يې لېدلی هم نه وي، خو کيسې يې اورېدلې وي، تاسي به ليدلې وي، چې دښار د يو تعمير په څلورم پوړ کې

۳مخ

اسحق ستانکزی

## ويليم جونز او د تطبيقي ژبپوهنې پيل

انسان يو ټولنيز موجود دی، د ټولنې اساس او بنياد پر درک او افهام و تفهيم ولاړ دی، د درک او فهم له پاره يوې وسيلې ته اړتيا شته او دغه وسيله ژبه ده. ژبه يو سيستم دی. داسې يو سيستم چې په نړۍ کې موجوده انسانان يې د يو او بل د پوهولو او راپوهولو له پاره پر ژبه راوړي. دغه سيستم هوايي نه دی بلکې د خدای ج په حکمت او د انسانانو د ورځني ژوند د اړتيا او پرله پسې تکرار پر اساس رامنځ ته شوی دی.

ژبه د بشر په تاريخ کې په مختلف ډول د مختلفو انسانانو لخوا څېړل شوې ده، نوي بحثونه پکې رامنځته شوي دي، د ژبې نويو اړخونو ته د انسان پام اوښتی دی، او دا لړۍ به د بشر تر بقا پورې همداسې دوام لري. په دې مقاله کې به په لاندې درې موضوعاتو بحث وکړو.

۱. ژبه
۲. د ژبې ډولونه او ځانګې يې
۳. ويليم جونز او د تطبيقي ژبپوهنې پيل

ويليم جونز لومړنی کس و چې د ژبو خپلوۍ ته متوجه شو او د ژبو اندواروپايي کورنۍ يې کشف کړه. د سانسکريت، لاتيني او يوناني ژبو پر خپلوۍ يې بحث وکړ. له هماغه وخت څخه تطبيقي ژبپوهنه پيل شوه او بيا وروسته نورو عالمانو کار پکې وکړ او اثار يې وليکل.

**ژبه**

ژبه د غږيزو يا صوتي سمبولونو داسې يو اکتسابي او قرار دادي سيستم دی، چې د يوې ټولنې وګړي يې په خپل مېنځ کې د پوهولو او راپوهولو لپاره کاروي. يا په بل عبارت: ژبه د داسې نښو ټولګه ده چې هره يوه يې زموږ د يوه ذهني انځور ( تصوير) ښکارندويي کوي. دا انځورونه د انساني مهال و چاپېريال: خيزونه، ځانګړتياوې، پېښې، پديدې، کړه وړه او د اړوند ويونکي خپل اندونه، خيالونه، هيلې، غوښتنې، موخې، ارمانونه، احساسات، غبرګونونه او نور هر هغه څه رانغاړي چې په زړه او ذهن کې يې ګرځي را ګرځي او ويل او اورول يې غواړي. ( وحدت، عبدالسميع.

۳مخ

مرسل اميري

## د عبدالرحمن بابا په شعرونو کې فتوت ( مېړنتوب)

فتوت فرهنګ عميد داسې راپېژني: جوانی، جوانمردی، رحم، کرم، سخی، بزرګواری .

فتوت يامېړنتوب/ ځوانمردي دتصوفي مسلک يوه برخه ده، چې په ډېرو اسلامي هېوادونو کې رواج وه. دغه مسلک خلکو او ټولنې ته د خدمت کولو يوه بڼه ده، چې ځان ته ځانګړي اداب، اصطلاحات او بنې لري چې ډ پر د اسلام مقدس دين په اخلاقي نظام ټينګار کوي، يعنې د بېوزلو لاس نيول او د ظالم له ظلم څخه مخنيوی فتوت يا مېړانه ده.

فتوت عربي کلمه ده چې د ځوانی،ځوانمردي يا مېړنتوب، سخي په معناوو کارول کېږي. فتوت د عربي له( فتی) څخه مشتق شوې کلمه ده، چې د ځوان په معنا ده او اصطلاح کې هغه چا ته ويل کېږي چې د روحي، جسمي او اخلاقي خواوو څخه لوی شوی وي. فتي په عربي کې هغه چاته ويل کېږي چې سخي او زړه ور وي، که په سخاوت کې قرضدار او شجاعت کې مړ هم شي. دغه د فتی کلمه په قرآن کريم کې هم د ځوان په معنا ذکرشوې ده، چې د يوسف په سورة کې د حضرت يوسف (ع) لپاره چې ناوړو او بدو کارونو ته يې سر ټيټ نه کړ. د کهف په سورة کې اصحاب کهف ته ويل شوي چې بتانو ته يې سرونه ټيټ نه کړل.

فتوت يعنې مېړانه چې موخه ترې انساني شخصيت، انسانيت، چې ښه خويونه جذب او بد يې حذف شوي وي. په بل ځای کې فتوت داسې راپېژندل شوی: فتوت جوانمردی ( مېړانه)، سخاوت، لويوالی، شجاعت، مېلمه پالنه، ملګرتيا، زغم، د خلکوپالنه، د نورعيبونوپټول، اخلاص، زړه سوی، عدل، انصاف، بخښنه، همت، عفو، صبر، سرښندنه، مهرباني، له بېوزلوڅخه ملاتړ، د ظالم پر وړاندې مقامت او فتيانو سره مينه او علاقه درلودل، مروت، له بدی او ګناه څخه لرېوالی دی او صطلاح کې يو ټولنيز لړۍ چې موخه يې ښه توب او خلکو ته خدمت کول وي.

۲مخ

## ګل رحمن رحماني

# شعر ، ترانه او ترنم

د شعر په اړه ښايي د ادبي ذوق هر خاوند د خپلې خوښې دوه درې تعریفونه په یاد ولري او په اړه یې ډېر څه وويلی شي، خو ترانه ـ چې موږ ورسره ښه اشنا یوو، اورو او وایو یې ـ روښانه تعریف او ځواب نه لرو، په دې اړه هم ګنې پوښتنې رامخته کېږي چې شعر او ترانه توپیر لري که نه؟ ایا ترانه هم د نورو شعري ژانرونو په څېر ځانګړی ژانر دی که د شعر د بیان یا لوستنې یو ډول او حالت دی؟ ترانه په خپل ذات کې ګڼ مینه وال او مخاطبان لري، خو کټ مټ هغه شعر نه دی چې موږ یې په عادي ډول لولو او اورو.

په دري ژبه کې ترانه ځانګړی مفهوم لري، خو تر کومه چې د پښتو ترنم او زمزمې خبره ده، یوازې د شعر یو ځانګړی ترکیب او کله کله داسې ژانر دی چې ګڼ نیم او پوره بندونه په کې راځي، تکرار او ماتېدنه لري، هر څه د یوه شکلي غږ او اهنګ تابع ګرځوي، تر څو خاصه زمزمه او انګازه تولید کړي او کله کله خو د یوه پر ځای څو او ډله ییز ویوونکي لري.

په ترانه کې پیغام د شعر په پرتله په مخامخ ډول له کوم ژبني ځنډ او ځنډ پرته لېږدول کېږي، اصل او بنسټ یې هم باید همدا وي، ځکه چې د ترنم پر مهال مخاطب د تفکر او تحلیل لپاره وخت نه لري او د هرې مصرع د اورېدو پر مهال د غږ یا زمزمې په ښکلا کې را ګیر وي، یا په بل عبارت د مخاطب د ادبي ذوق د خروبولو چاره یوازې غوږونو ته سپارل شوې وي.

په شعر کې بیا داسې نه ده او شاعر معمولا د پیغام او اصلي مفهوم د لېږد لپاره له ادبي صنایعو څخه زیاته ګټه اخلي، د مخاطب ذهن او فکر ته پام کوي، د هغه له زړه او عواطفو سره د ملګرتیا اړیکه پیدا کوي، همدا لامل دی چې په بېلابېلو زماني وقفو کې د شعر له اورېدو څخه متفاوتې اخیستنې لرو. که څه هم ګڼې داسې ترانې شته چې معنا او مفهوم یې ډېر ژور او مبهم وي، خو اکثره ترانې روښانه او روڼ بیان لري چې په ساده ډول د پوهاوي وړ وي.

ترانې تر ډېره بریده له ترنمي موسیقي او ریتم سره تړاو لري او په موسیقي کې خو داسې هم شوي چې لومړی ورته سرود او میلوډي جوړه شوې او وروسته ورته ترانه سازه شوې ده، په دې معنا چې ترانه د اورېدو لپاره او شعر د لوستنې لپاره طرحه کېږي.

یو ښه شعر باید شعري قوانین لکه قافیه، وزن، څپې، انسجام، خیال او تصویر ولري، خو په ترانه کې تر ډېره پورې اهنګ، کمپوز، خواږه غږ او د مصرو داخلي موسیقی ته ډېره پاملرنه کېږي، یا په بل عبارت دا خیزونه بیا ترانه کې الزامي نه دي، پر ځای یې د خپل مخاطب پر حواسو او خپلونه زور راوړي، همدا لامل دی چې د ترانو متن له ترنم پرته ګونګ وي او که بې ترنمه وویل شي ښايي، مات، له سکتې ډک، ګونګ، بې معنا او بې خونده شي. بله مهمه خبره داده چې لوستونکی د عادي شعر په څېر د شعر په مفهوم او معنا کې نه جذبېږي، یوازې په ریتم او ملوډي کې جذب او ورکېږي.

هر شعر د ترنم او ترانې جوهر نه لري، دا جوهر یوازې هغه مهال شکل پیدا کوي چې شاعر یاني پنځګر یې یو څه له اهنګ او زمزمې سره اشنا وي، د پنځونې پر مهال یې د شاتو د مچی په څېر له ځان سره بونګېدلی او حتی کله کله د لاس په خوځولو بشپړ کړی وي چې دا حالت د شعر په متن کې د ترنم جوهر روزي او ترنم کوونکي ته د مرستې لاس ورکوي، خو دا هنر هر شاعر نه لري او کمپوز جوړونکي یې کېدای شي په سختی په کې را پیدا کړي، خو له طبیعي والي وځي او چوست اهنګ په کې ډېدې ته کېږي.

د ترانې متن معمولا له شعر نه یو څه کم وي، ډېرې تکراري برخې لري، ځکه چې باید په لنډون سره څو دقیقو کې را ونغاړل شي او لوستونکي خسته نه کړي، ځینې کره کتونکي یې په شعر کې یو مستقل سبک بولي چې د محتوا له اړخه ټولنیز احساسات او فکرونه په ساده او خوږه ژبه بیانوي. په همدې سبب یې ژبه محاورې ته ډېره ورته او ولسي ده، ځکه خو په ټوله کې ویلی شو چې ترانه ویل له شعر ویلو څخه سخت دی، خو د ریتم او کمپوز له اړخه په کې بدلون په اسانی راځي او ښايي دا اساني یې د محتوا د کمونې او زیاتونې سبب هم شي.

په ولسي منظومو ادبیاتو کې د ترنم جوهر ځکه ډېر ځلاند دی چې اکثره نالوستو خلکو ویلي او موږ ته د لیکلي متن پر ځای په ژبو او غوږونو کې راپاتې دي او دا غږونه عادي دیکلمې نه، بلکې خواږه او سندریز دي، خوند او زړه راښکون لري، ښايي په همدې اساس د عامو خلکو تر منځ شاعر یوازې هغه څوک دی چې ښه غږ او ښې ترانې وویلی شي او شعر یوازې ترانې ته وايي. **د مقالې پای**

# د لویو مقصدونو ...

چې هغه هم نن سبا له موده لوېدلی ښکاري.

اوس به د دې پوښتنې ځواب ته راشم چې د استاد رفیع له خبرې سره سره ما د کتاب په پښتیو کې ولې لویې سهوې وکړې؟ زما ځواب دا دی چې موږ د یو متن د سمونو په وخت کې ښايي متن هغسې ونه لولو چې لیکل شوی دی، بلکې هغسې یې ولولو چې زموږ په ذهن کې دی. زما په ذهن کې د کتاب نوم د نثر هنر و، نو د سافټ کاپي د لیدلو په وخت مې لیکل شوی متن هغسې لوست، لکه په ذهن کې چې مې و. له دغه مثاله دا پایله هم راوځي چې موږ که په ذهن کې د یوه شي په باره کې یوې پایلې ته رسېدلي یو او بیا هغه شی د سر په سترګو ګورو، نو ممکن هغسې راښکاره شي چې زموږ په ذهن کې موجود دی. که مو ذهن منلې وي چې پلانی ډېر ښه یا ډېر لایق سړی دی، له لیدو وروسته چې کوم قضاوت کوو، په هغه کې به د مخکیني ذهنیت اغېز موجود وي.

بنیادم که اراده هم وکړي چې له ځانه راووځي او جهان وپېژني، ودې شي چې بیا هم ځان ولولي، نه جهان.

ما د دې لیکنې په سر کې د استاد رفیع د خاطراتو اهمیت ته اشاره وکړه. د رفیع صاحب ژوند د یو داسې چا په توګه چې له کلي او مدرسې راغی او په کابل کې مشهور لیکوال او محقق شو، د هر قشر لوستونکي ته پیغامونه لرلای شي. په ۱۳٦۰ کلونو کې یو مازدیګر د رفیع صاحب کور ته ورغلم. ده د خیرالبیان سمونه تازه په تازه بشپړه کړې وه. ویل یې، وعده مې وه چې تر سبا پورې به یې بشپړوم، دا دی ختمه شوه، ټوله شپه مې ورته ویښه تېره کړه.

استاد رفیع یوازې ډېرې لیکنې او څېړنې نه دي کړې، بلکې د اکثرو فعالو لیکوالو برعکس یې همېشه پراخ اجتماعي روابط پاللي دي، تل یې رسنۍ تعقیب کړي او په ادبي ـ علمي ناستو کې یې د ګډون لپاره اوږده سفرونه کړي دي. له ما سره پوښتنه وه چې دی دا دومره وخت له کومه کوي؟ په ۱۳۷٦ کې رفیع صاحب څو ورځې زما مېلمه و. هلته رامعلومه شوه چې دی ماخوستن د نهو او لسو بجو تر منځ ویده کېږي او دوه بجې لا نه وي چې خوب یې پوره وي. همدا له نیمې شپې تر سهاره پورې د ده د مطالعې، لیکنو او څېړنو اصلي وخت و.

لسیزې پخوا یوه ورځ رفیع صاحب په یوه کوځه کې مخې ته راغی، ویل یې څلوېښت کلن شوم، ما مبارکي ورکړه او ده په ځواب کې وویل:

عمر برباد راباندې تېر شو
لکه برباد چې په بیابان تېر شي بادونه

ایا ده هغه د چا خبره تواضع کوله چې دا لنډۍ یې وویله!؟ نه، د لویو مقصدونو څښتن که شپه ورځ په ځان یوه کړي او زیار وګالي، بیا هم احساس کوي چې کاشکې یې ډېر څه کړي وای.

**د مقالې پای**

# د شعر او ادب ...

انسانیت احساس وکړو، دوی خو موږ یوازې لکه بازاري غوټه پرېږدي، موږ په ادب سره کولی شو چې دغه ثقافت لاس ته راوړو، په پای کې ویلي شو: ادب د خلکو پر ژوند اغېز لري، خوند او ګټه لري، وجدان او عواطف صیقل کوي، زموږ تجربې زیاتوي،د ژوند، طبیعت او حتی د ځان په اړه په پېژندلو کې مرسته راسره کوي.

نړۍ له مادي او معنی څخه مرکبه ده، ماده جامده، کلکه او چوپه ده، په اراده پورې هېڅ تړاو نه لري، کله چې موږ هم د کوم معنوي شي د لاس ته راوړلو هڅه کوو نو مادي اسباب ورته لټوو. نو مادي نړۍ د معنوي نړۍ نوکره ده، لکه جسم چې د روح په خدمت کې دی، همدا ده چې تاریخپوهان وايي: د فرانسې ستر انقلاب به نه و رامنځ ته شوی که "والټر او روسو" خپل افکار د خلکو پر زړونو کې نه وای کرلي، انګرېزي لیکوال"کارلیل" وايي: " موږ انګرېزانو ته شکسپیر له ټول هند نه قیمتي او ارزښمن دی" دا وینا خو هغه چاته نا اشنا ښکاري چې پوره څېرنه ونه لري، بیا وايي: ځنګه نو یو انګرېز که څومره لوړ ادیب هم و په عقلونو یې دومره واکمني وکړه چې انګرېزي ادیبانو ته له هند څخه ارزښتناک دی، هغه هند چې د لویې برتانیې عظمت پرې ولاړ دی، خو که څوک لږ څېر شي نو دا شکسپیر و چې په خپلو قصیدو یې د برتانوي ملت عواطف وخوځول، پاک یې کړل، لوړ یې کړل، جمال او جلال یې ورته ښایسته کړل، قلم او کمال دواړه یې ورکړل، د هند فتحه چې ملیونونه خلک په کې اوسیږي دا دا همدې ادبي ونې له برکته ده، هغه ونه چې شکسپیر په خپل لاس د دې لوی ملت لپاره نهال کره.

ارجنټایني لوی لیکوال پورخیس به تل له همدې زورېده چې به ترې وپوښتل شول" د ادب ګټه څه ده" دا پوښتنه به ورته ډېره بې منطقه ښکارېده، تر دې چې ویل به یې " هېڅوک د قمري د غږ د ګټې پوښتنه نه کوي، د لمر د ډوبېدو ګلابي منظرې پوښتنه نه کوي" سره له دې چې ادب د طبیعت د لارې نه دی زېږېدلی، بلکې بشري اختراع او نوښت دی، نو باید دا پوښتنه مطرح کړو چې ځنګه او ولې دې نړۍ ته راغلی دی، ګټه یې څه ده او ولې په پېړیو پېړیو پاتې شوی دی؟

ادب هغه رحم دی چې په کې د ټول انساني معرفت منابع راټوکېږي نو ادب بیا ځنګه بې ګټې او بې ارزښته و نه بولو. / **د مقالې پای**

# نړی والي ژبې...

چې د راتلونکې اوونۍ تر لومړیو ورځو پورې منتظر پاتې شم.

خو دې ژبې ته هم د کمبود نه لرونکې ژبې په سترګه نه دي کتل شوي، حتی د دې ژبې جوړونکي په ۱۸۹۴ کال کې د منظورۍ په موخه د رېفورم وړاندیز وکړ. تر هر څه د مخه په دې ( tatsache) واقعیت باندې انتقاد شوی و، چې ګرامري سیستم یې په لوړه کچه د طبعي ژبو د (سیستم) سره توپیر لري.

همداسې په مداوم ډول نور وړاندیزونه را څرګند شول لکه: I do په ۱۹۲۷ کال کې، Occidental په ۱۹۳۳ کال کې، Interlingua په ۱۹۵۱ کال کې ترسره شو. دا هغه څه دي چې جوړونکی یې د اېسپېرانټو، ایدو او اېنټرلېنګوا تر منځ د یوه جوړجاړي په سترګه ورته ګوري. په دې سره جوړونکی د اېسپېرانټو او ایدو ژبو د Schematismus (د یوناني ژبې نومونه ده او په اووه لسمه پېړۍ کې راغلې ده چې د برابرۍ معنا لري.) او اېنټرلېنګوا له نچرالېزم په منځ کې د Widerstreit لانجې یا شخړې توازن غواړي.

په Delmondo کې د نومونو (اسمونو) دوې طبقې شته، یوه طبقه یې د یوګړي (مفرد) لپاره O - لري او د ډېر ګړي (جمع) لپاره S کارول کېږي. دا بله طبقه یې د یوګړي لپاره یو بې غږه او د ډېرګړي لپاره - es لري. ستاینومونه په -a او قیدونه یې د (poko, molto,male,bene) په استثنا سره په -mente پای ته رسېږي.

د اوس مهال کړ (فعل) یې په -e او د تېر مهال کړ یې په -is سره جوړېږي. د konditional شرط لپاره -vo د راتلونکې زماني لپاره د va مطلقې ماضي لپاره ya کارول کېږي د ساري په ډول: li done( هغه یو څه یا یو شی ورکوي.)، li donis (هغه څه ورکړل یا هغه یو شی ورکړ.)، li doni ( د هغه زړه غواړي یو شی یا یو څه ورکړي.)، li vadone ( هغه به یو څه یا یو شی ورکړي.) او داسې نور.

Delmondo د نورو مصنوعي ژبو څخه ښه نه ده، سره د دې چې د هغې جوړونکی د هغې سموالي، اسانۍ او Wohlklang خواږه غږ ته اشاره کوي، دا ژبه هم د نورو ژبو غوندې خاصیتونه لري.

یو شمېر داسې مصنوعي ژبې هم جوړې شوې دي چې بنسټ یې لاتین ژبه جوړوي. لاتین ویونو د مسودې په بڼه دغو ژبو ته منظم بدلونونه ورکړل او د نن ورځې د ژبو په وسیله اخیستې ویونه یې بدای او غني کړل. د ساري په ډول داسې یوه ژبه ( Lingua) لېنګوا ونومول شوه. د دې ژبې جوړونکی وړاندیز کوي چې ویونه دې په پر نسیپ کې د لاتین ولیو (رېښو) څخه داسې جوړ شي چې د نوموړې ژبې په پوهېدو کې یو لاتین سیند (قاموس) استعمال کړای شي. ګرامر یې د موډرنو ژبو ( Muster) نمونې سره په مطابقت کې جوړ شوی وي. د ګرامر د مناسبو فورمونو، د ارټیکل د کارونې او د اورون د لړوالي په وسیله جوت او وښودل شو. ټول کړونه (فعلونه) یو شانته اوړون لري: درې زماني لري چې درې Partikeln (num) د حال زماني، (tum) د تېرې زماني او (gum) د راتلونکې زماني نخښه ګڼل کېږي. (Partikeln ډېرې وړې برخې یا ټوټې ته وايي په ژبپوهنه کې د اړیکې، ترښت او حالت وییونه په ګوته کوي. فورم نه بدلوي او خپله معنا نه لري.)

سرۍ د Schrib د ولیې (رېښې) څخه Schreiben (لیکل) mi schribnum (زه یې لیکم)، me schribtum (ما لیکلی دی)، me schribqum (زه به یې ولیکم.) د حال زماني، تېرې زماني او راتلونکې زماني partizipien د nu، tu، qu ( schribnu,schritu,schribqu) د پارټیکلونو په ذریعه جوړېږي. په دې ژبو کې د موډرنو ژبو د نړۍ والو وییونو لکه: kapital، photograp، mikroskop، messieurs، dame، kompliment، invitation او نورو د کارونې اجازه شته، له دې څخه دا پایله لاس ته راځي چې په لاتین باندې ولاړې او متکې ژبې له نورو (ژبو) څخه نه لږ hybrid او نه هم لږ بې ستونزو، مشکلاتو او سختیو دي.

**د اداري یادداښت:**

قدرمنو لوستونکو! دغه مقاله نورې برخې هم لري چې په راتلونکو ګڼو کې به چاپ شي، هیله ده چې د ژبې د مطالعې خېړنې پر مهال ترې ګټه واخلئ.

# د عبدالرحمن بابا په شعرونو کې ...

خو داسلام په دین کې فتوت یو دیني مسلک په توګه وروسته له تصوف څخه په هر اسلامي هېواد کې ډېرپلویان لري، چې د اسلام دین اخلاقي خواوې ښکاره کوي؛ د اسلامي تصوف ترځنګ درېږي او هغه پیاوړی کوي. څه چې الله (ج) د اخلاقو په اړه ویلي دي فتیان هغه خپل د مسلک سرلارۍ( سرمشق) ګڼي. دوی وایي ټول پیغمبران فتي ول خو ابراهیم ( ع) ابوالفتیان او حضرت محمد(ص) سیدالفتیان و. ابراهیم (ع) ته ځکه ابوالفتیان وايي چې هغه د زوی اسماعیل(ع) قرباني کول ومنل، خپله(ابراهیم) د کفارو لخوا په اور کې اچولو په وخت کې له چا څخه مرسته ونه غوښته، د هغه مېلمه پالنه چې له یو کافرڅخه یې کوله او هغه یې حق دین ته رابله اشاره کوي. د پیغمبرانو په ډله کې حضرت یوسف (ع) ته هم اشاره کوي چې د مصر دمېرمنو په دام کې کښېنوت او د هغوی ناوړې غوښتنې یې ونه منلې او سیدالفتیان حضرت محمد ( ص) ته ځکه وايي چې د هغه اخلاقي فضایل له حد او شمېر څخه وتلي، چې د تاریخ، تفسیر، سیرت او حدیث په کتابونو کې ذکرشوي دي. نو همدا لامل دی چې ډېر اسلامي ډلو خپل مکتبونه د اسلامي شعریت، اساساتو او اخلاقیاتو په اساس بنا کړي دي. فتیانو هم خپل مسلک په همدې اساساتو پیل کړی دی.

فتوت هم د تصوف ترڅنګ ښه پرمختګ وکړ او پاملرنې ورشو، نو ویلی شو چې فتوت د تصوف اخلاقي او تربیوي ځنګې ته لا ښه ځلا ورکړه چې د فتوت پرمختګ او ځلا ښه وخت ( ۵-۹) هجري پېړۍ وې چې بیا د کمرنګۍ وخت یې د تصوف کمرنګۍ سره هم مهاله ده.

ځنګه چې تصوف په کلی بڼه له منځه نه دی تللی همداسې د فتوت مسلک هم لا تر اوسه جریان لري، اوس هم د فتوت اغېزې او خیر غوښتنې مفکورې خلکو کې شته چې دغه مفکورې د ځینو وګړو، ډلو او یاهم د ټولنو لخوا ترسره کېږي.

پخوا د فتوت مسلک ځایونه یو څه معلوم وو،لکه: خرسان، ماورالنهر،اناتولی( اوسنۍ ترکیه) ، دمشق، قاهره او بغداد؛ خو اوس د نړۍ په هر ګوټ کې وګړي هڅه کوي چې دغه د خیرغوښتنې مفکورې پلې کړي. د تصوف مشرانو تل تصوف د خاص( ځانګړو وګړو ته) او فتوت یې عوامو ته ګڼل. ابن عربي معتقد و چې لومړي ځل لپاره ملامتیه فرقه فتوت ته داخل شوه.( ملامتیه هغه ډله وه چې تل به یې ایثار، بخښنه او سخاوت کاوه، د نفس سره به یې مجادله کوله او په دې لارکې د چا له ملامتولو څخه نه ډارېدل) . پروفیسورهارتن وایي: فتیان وروسته له صوفیانو څخه نرم او ملایم مزاجه خلک وو.

فتیان په خپل مسلک( فتوت) کې د فتي لپاره دغه پنځه ځانګړنې حتمي ګڼي.

۱ـ په رښتیني بڼه توبه کول.
۲ـ دنیوي علاقې پرېښودل.
۳ـ د زړه او ژبې یوالی.
۴ـ په رښتیني بڼه دفتوت له مشرانو لاس نیوی کول.
۵ـ د نفساني خواهشاتو پرېښودل.

له دغو اصلي ځانګړنو سره نور فرعي ځانګړنې هم شته دي، لکه چې وایي فتي باید عاقل، بالغ او مسلمان وي؛ مروت، مېړانه، حیا او شجاعت باید ولري .

فتوت د اسلام یوه برخه ده نو هغه څه چې اسلام باطلوي هغه فتوت هم باطلوي. فتیانو به هغه خلک چې: کاهن(د مصریانو، بابلیانوا و یهودانو روحاني مشرـ) ، فال لیدونکی، دغیبو ویونکی، په شراب روکدی، ډم، دلال، قصاب، جراح، ښکاري، دولتي مامور او داسې نور کسان به یې په خپل ډلې کې نه نیول او د دوی داخلېدل به یې ډلې ته عیب ګڼل.

هغه کسانو به چې د فتیانو په ډلې کې: شراب خوړل، زنا، لواطت، سخن چیني، دوه مخي، تکبر، ډارن، حسادت، کینه، دروغ، مخالفت، خیانت، نامحرومو ته شهوتي نظر، عیب لټول، غیبت، تهمت، غلا، حرام خوړل او همداسې نور کول د فتیاتو له ډلې به یې ایستل. هرچا به چې دغه اصلي ا فرعي ځانګړنې درلودې او له موانعو څخه یې ډډه کوله، نو د فتوتو مسلک ته به یې د داخلېدو حق پیدا کړ، دغه کس یا د فتوت مسلک دواطلب ته یې طالب یا صغیر ویل .

هرچا په چې غوښتل دغه مسلک ته ورداخل شي لومړی به یې یو لیک استاد(مطلوب) ته یې لیکه او طالب به څلوېښت ورځې د استاد او درې نورو کسانو چې د ( فتوتو پیر)، د عهد(موافقې) پلار چې موفقنامه یې لوسته او بل شد استاد چې د شد استاد دنده کمربند تړل طالب ته دی، چې طالب به د دوی په خدمت کې و. وروسته له څلوېښت ورځو څخه که د دغو کسانو رضایت یې حاصل کړ نوهله به یې دغه طالب ته فتوت دمسلک داخلېدو اجازه ورکړه او ورته به یې زوی(ابن) ویل خو دغه اجازه به د ځینو مراسمویه لړکې ورکول کېده چې دغه مراسم به په بېلابېلو عنوانو کې شرح کړو.

درې غوټې اچول(سه بند زدن) مراسم

وروسته له دې چې طالب قبلېده نو ځانګړي مراسم وور ته نیول کېده او د فتوت مسلک ته د داخلېدو اجازه ورکول کېده په دغه مراسم کې شد استاد او مطلوب به مخ په قبلې کښېناسته او طالب هم بلې خوا به ارام او چپ له عهد پلار سره ناست به وو. له دود سره سم به مطلوب اوبه او مالګه به یې مجلس ته راوړ او یو څراغ به یې هم روښانه کړ، د مجلس خلکو ته به یې شیریني او حلوا ورکوله، بیا به د عهد پلار د قران یو آیت چې د عهد او ایمان په اړه به و، ویل او شد استاد به د طالب

۳مخ

# ویلیم جونز او ...

(۹:۱۳۹۸

د مفاهمې له مخې د ژبې ډولونه:

۱. گړنۍ ژبه
۲. لیکنۍ ژبه
۳. اشاریي ژبه
۴. علامه یي ژبه

د جوړښت له مخې ژبې بیا په دوه برخو تقسیم کېږي:

۱. طبیعي ژبه
۲. مصنوعي ژبه

او د ژبې دندې بیا دا دي:

۱. د انسانانو ترمنځ اړیکه او ارتباط ټینگوي.
۲. ژبه د فکر کولو ذریعه ده.
۳. د ژبې بله دنده د هغې هنري نقش دی.

د ژبې علمي څېړنه »ژبپوهنه «بلل کېږي.

**ژبپوهنه**

د ژبپوهنې نړیوال نوم لینگوستیگ (Linguistic) دی. لینگوستیک د لاتیني ژبې له (lingu) څخه رغېدلې کلمه ده چې (lingue) د ژبې په معنا او (stics) د علم او پوهې په معنا ده یعني هغه علم چې د ژبې په اړه هرارخیزې څېړنې کوي د ژبپوهنې په نامه یادېږي. (چمتو، قسیم. ۲۷:۱۳۹۵)

هغه پوهنه چې ژبه او د هغې څرنگوالی، رغاونه او ډول ډول ژبني مسایل تر کتنې او څېړنې لاندې نیسي ژبپوهنه یې بولي، یا په بل عبارت ژبپوهنه هغه پوهه ده چې د ژبې غږیز، وییز، نحوي او مانییز سیستمونه په عملي توگه څېړي.

**د ژبپوهنې څانگې**

د ژبپوهنې د څانگو په هکله د ژبپو هانو پخوانی وېش او نظر داسې و چې دوی ژبپوهنه په ټولیزه توگه په دریوو سترو څانگو وېشلې وه:

الف. تاریخي ژبپوهنه. ب. تشریحي ژبپوهنه ج. پرتلیزه ژبپوهنه

نوې ژبپوهنه په دې اند ده چې ژبپوهنه په ټوله کې په دې لاندې دوو سترو څانگو وېشل شوې ده:

ـ بنسټیزه یا اساسي ژبپوهنه: د ژبپوهنې په دې برخه کې ( غږ پوهنه، اوازپوهنه، غونډله پوهنه، معنا پوهنه) شاملېږي، چې گڼ شمېر ژبپوهانو ورته د دژبپوهنې د هستې نوم هم ورکړی دی.

ـ عملي یا تطبیقي ژبپوهنه: د ژپوهنې په دې برخه کې د ژبپوهنې تیوریکي برخه عملي بڼه غوره کوي او د ژبپوهنې په دې څانگه کې ټولې هغه برخې شاملېږي چې په خپله ساحه کې له ژبې او ژبپوهنې سره تړاو لري.

**ویلیم جونز**

سرویلیم جونز د ۱۷۴٦م کال د سپټمبر پر درویشتمه د لندن په یوې ولزي کورنۍ کې زېږېدلی او د ۱۷۹۴م کال په اپریل کې مړ شوی دی. پلار یې ډېر شتمن سړی و، د انگلیسي ژبې د سلطنتي انجمن مرستیال او د ریاضي په علم هم لاسبری و. نوموړی د اسحاق نیوټن ملگری او د هغه د اثارو  شرحه کوونکی و. مور یې هم د ریاضي استاده وه.

. لومړی کس و چې د هندو اروپایي ژبو کورنۍ یې کشف کړه او د یوناني او سانسکریټ ژبې خپلوۍ ته متوجې شو. هغه په انگلیسي، یوناني، لاتیني، چیني، سانسکریټ، عربي، فارسي، پرتگالي، هسپانوي، ایټالوي او نورو ژبو پوهېده. په ټولیز ډول یې اته ویشت ژبې زده وې. لومړی یې عبري ژبه زده کړه. په دغو ژبو پوهېدل ددې لامل شوي وو چې دی د ژبو ترمنځ د خپلوۍ پر اړیکو بحث او څېړنه وکړي.

له فارسي ادبیاتو سره یې ځانگړې علاقه درلودله او خپله یې هم ډېر شعرونه لیکلي دي. د هغه شاعرانه اثار ډېر زیات دي او په ادبیاتو کې یې بې شماره اثار پنځولي دي. هغه د هغه لومړنیو غربیانو په قطار کې راځي چې په فارسي ژبه یې لیکنې او ژباړې کړې دي. له یوناني څخه یې فارسي ته او له فارسي څخه یې فرانسوي او نورو ژبو ته زیات شمېر ژباړې کړي دي.(مرهون، محمود. ۱۲۸:۱۳۹۵)

**ویلیم جونز او د تطبیقي ژبپوهنې پیل**

ویلیم جونز په ۱۷۸٦م کال د اسیایي انجمن په یوه غونډه کې د سانسکریټ ژبې په اړه خپله بیانیه واوروله او ویې ویل چې سانسکریت، لاتیني او یوناني ژبې سره ورته والی لري، چې په فارسي او استایي ژبو کې هم لیدل کیږي. دا ورته والی د همدې ژبو په غږیز، وییز، او نحوي سیستم کې ښکاري. بیا یې وویل چې دا ژبې د یوې مور ژبې څخه راوتلې دي، په دې سره ویلیم جونز د اندواروپایي ژبو کورنۍ کشف کړه. او له دغه ځایه څخه د معاصرې ژبپوهنې نوی باب پرانیستل شو. او د نړۍ د شنونکو او ژبپوهانو پام یې دې خوا ته را واړوه. د مقالې پای

# د عبدالرحمن بابا په شعرونو کې ...

ملا ته یو کمربند تړه او درې غوټې به یې ورواچوه چې دغه کار ته به یې درې غوټې ور اچولې یا سه بند زدن مراسم ویل. دوی خپل دغه کار ابراهیم (ع) ته منسوبوي او وایي کله چې ابراهیم (ع) کعبه جوړوله نو جبرایل(ع) هم د هغه ملا تړلې وه. نو موږ هم څکه د طالب ملا تړو چې وروسته له دې څخه د خلکو خدمت ته ملا وتړي. دوی ځان ته ځانگړې جامې هم درلودې، یو په کې خوله یا عمامه وه چې د فتیانو مقام لپاره ځانگړې و. پرتوگ هم د فتیانو په منځ کې د پاکۍ نښه وه او ویل به یې چې پیغمبر(ص) حضرت علي ته شلوار(پرتوگ) اغوستی دی.

**کاس الفتوّه**

فتیانو د جامو اغوستلو او کمربند تړلوپه وخت اوبه او مالگه به یې یوه کاسه کې اچول او هغه به یې په طالب وڅښلې، ورته به یې کاس الفتوّه ویل چې موږ ورته مالگوبی وایو. دوی دا څکه په طالب خوړلې چې وروسته له دې څخه طالب د مالگې حق وپېژني او هغه ادا کړي، دوی خپل دغه کار هم حضرت رسول (ص) ته منسوباوه او دلیل یې دا راووړ چې د جاهلیت په وخت کې ابوجهل د یوې ډلې مشر و چې ځان ته یې ځوانمرد (مېړني) ویل او ځوک چې به د دوی ډلې ته داخلېدل نو د شراب څښلو اجازه یې هم درلوده. په هغه وخت کې پیغمبر(ص) ځوان و نو ځلوېښت ځوانان ده ته راغلل او د کاس الفتوّه څښلو غوښتنه یې ترې وکړه، هغه (ص) وویل زموږ تر منځ دې شراب نه وي او مالگوبی یې وڅښه، دلته و چې د شرابو نه څښل ابو جهل ته غوسه وروستله او له ځلوېښت تنو سره راغی چې پیغمبر(ص) ووهي خو دغو ځلوېښت تنو له هغو نورو ځلوېښتو تنو چې پیغمبر (ص) سره وو؛ څخه وهل وخوړل او بېرته لاړل.

دلته مو چې په فتوت یا مېړانې دومره بحث وکړ موخه دا وه چې باید لومړی د دغې کلمې په معنا او مفهوم ښه پوه شو او وروسته بیا د عبدالرحمن بابا په کلام کې د فتوت په موضوع باندې خبرې وکړو، څنگه چې وپوهېدو فتوت د ژوند ښېرازۍ ته وایي خلکو ته خدمت، مرسته، ښه توب ته وایي او ادبیات هم د ژوند هنداره ده نو هر هغه څه چې انساني ژوند او چېریال پورې اړه ولري نو هغه په ادبیاتو هم اغېزه کوي ، هغه که په نظم وي یا نثر کې، فتوت په عربي، ترکي، پښتو او درې ادبیاتو ډېره اغېزه کړې ده او لوی لوی درسونه په کې پراته دي، اوس به د فتوتو په هغه درسونو پیل وکړو چې د عبدالرحمن بابا په کلام کې پراته دي.

**۱. مروت :** مروت له مرء عربي کلمې څخه اخیستل شوې کلمه ده چې د سړي په معنا ده. مردی، مردانه گی یعنې سړی سړیتوب چې موخه ترې انسان اوانسانیت دی. مروت د انساني ادابو له جملې څخه یو ادب دی چې انسان ښه عادات او اخلاقو ته هڅوي، روحي او رواني حالت دی چې نیکۍ ته ډېر لېوال او له بدۍ څخه بېزاري ده. مروت انسان له خطا او گناه څخه ژغوري په همدې دلایلو مروت په اسلام کې هم له ځانگړې ځای څخه برخمن دی، حتی تردې کچې چې هېڅ انسان د داسې کار کولو حق نه لري چې د بل انسان مروت (مېړانه) تر پښو لاندې شي، نو که ځوک داسې یو کار کوي هغه د خدای(ج) نه بلکې د شیطان پیروي کوي. مروت هغه باارزښته اخلاقي صفت دی، چې د ټولنې هر وگړی یې باید ولري. اصلي ریښه یې له گناه ، بدۍ او خطاوو څخه لرېوالی، د ژوند په ټولو اړخونو کې تعادل، د مصیبتونو په وخت کې له صبراو زغم څخه کار اخیستل دی.عبدالرحمن بابا د مردي یا مروت په اړه وایي :

ښه توښه مې نه شي په تش ډاډ د کور و کلي
مرد بویه چې واخلي د غم پېټی له غمگینه

**۲. سخاوت :** سخاوت د سخي، بخښنه او ورکړې په معناوو راغلی چې په وړاندې یې بخل صفت راځي. بخښونکي کس ته سخي وایي. د دین له نظره سخي هغه ځوک دی چې د محتاج کس احتیاج پرته د هغه له غوښتنې څخه پوره کړي. سخاوت هر هغه څه چې یو انسان یې لري مادي وي که معنوي، مال وي که ځواک نورو ته یې د اړتیا پر مهال ورکول سخاوت دی. په قران کریم کې د سخاوت په اړه ډېر آیتونه راغلي دي او پرې ټینگار شوی. په یو ځای کې الله تعالی فرمایلي دي؛ ترجمه: «هغه کسان چې خپل شتمني د الله (ج) په لار کې مصروفوي هغه دانې ته ورته دي چې ترې اوه وږي راوځي، او په هر وږي کې سل نورې دانې وي او خدای(ج) هر چا ته چې وغواړي دا څو برابره کوي، خدای(ج) په هرڅه قادر او نعمت یې پراخه ده او له هرڅه څخه خبر دی.»

همداسې پیغمبر(ص)، اصحابو کرامو او د دین لویانو د سخاوت په فضایلو ډېرې سپارښتنې کړي دي. سخاوت یوازې په مال کې نه دی هر معنوي او مادي څیز، هغه که یوه مسکا هم وي کېدای شي. سخاوت په علم او هنر، قدرت او ځواک، خیر غوښتنې، مال او داسې نور شیان. همدا دی چې سخاوت د ټولنې په سمون کې ستره ونډه لري، د خلکو تر منځ دوستي، وحدت، یوالی او په مال کې برکت رامنځته کوي. داسې په زرگونه نورې گټې لري. د سخاوت په اړه داسې وایي :

د حاتم په څېر د ستایي
خطاب به درکا د سخا

سخي هر یو د خدای دوست دی
ولو کان فاسقا

په بل ځای کې وایي:

که یوه دانه د وږي په لاس ورکړې
هم دغه به دې توښه شي د عقبا
که یوه څاځکي اوبه ترې لره ورکړې
د دوزخ اوستا میان به شي دریا

***

۴مخ

# د ښار شاعري (پاتې برخه)

د کلي د گودر او پېزوان شعر ته چکچکې کېږي، خو زموږ کلیوال چې لا کېمره لرونکی مبایل ورته ښه نه ښکاري او پر استعمال یې نه پوهېږي، ویلون، فیسبوک، لپ ټاپ، ریموټ .... به وپېژني؟ یو څه چې یې پېژندلې نه وي، په اړه به یې د څه شي اورېدلو ته هم تیار نه شي. نو د ښار شاعري موږ په ادبي فکري وېشنه کې راښکېل کړو؟

د لپ ټاپ له شاعرانه استعمال به هغه ځوک ښه خوند واخیستلای شي، چې استعمال کړی یې وي، یا حد اقل لېدلی یې وي. خو پر دې سربېره شاعري داسې پېژندل شوی کیفیت دی او وو، چې ټگي پکې چا په رسمیت نه پېژندله، آن د ټگۍ وسایلو لا سمه لار نه شوای ورته موندلای. خو د ټکنالوژۍ د نویو توکو شاعرانه کول، ځینې شعري مینه وال، د شاعري په اړه هم داسې انگېرلو ته وهځول، چې که سړی په ټلیفون کې د څنگ له خونې یو چاته داسې دروغ ویلی شي، چې آن په کیلو مترو در نه لرې یم، دا نو دا معنا لري، چې شاعري هم کولای شي، دغسې وسایل دومره په خوند راوپېژني چې بیا یې په استعمال کې سمه په هنر ټگي وکړای شو. خو دا ممکن د منفي ذهنیت یو څرک وبولو، مگر له دې حقیقته هم سترگې نه شو پټولای، چې اوس سړی په شاعري کې مبایل تر ټولو د ښه قاصد غوندې یادولی شي خو دا چې د کوم نظر د پلویانو سلنه ډېره ده؟ په ټولنه کې په حاکم ذهنیت پسې تړلې ده؛ مگر پر دې سربېره د ښاغلي تورمان یادې شعري ټولگې سم د زړه خوند راکړ، دغه خوند یوازې زما له پاره نه؛ بلکې په کلي کې مې ورور ته هم جالب او په زړه پورې ښکاري. چې دا به د هغه دکلیوالتوب ملامتیا وي او که بل څه...

(زه د ښار هغه شاعریم) په پوره معنا نوې شاعري ده، دغه (نوې) کلمه موږ دوه ډوله استعمالوو: یو نوی والی یې هغه څه دي چې یو څه موجود او را منځته شوي دي لکه کاینات او طبعیت چې خالق تعالی په خپل ستر والي سره هست کړي او شاعر یې د نندارې له مخې حالات شاعرانه کوي او بل نوی موږ هغه څه ته وایو چې له پیدا نه را پیدا شوی وي. نو د تورمان شاعري هم د دویم ډول نوي والي څخه ده، که ځوک استدلال کوي، چې لپ ټاپ خو هم مخکې نه و؛ نو ولې په دویمه ډله کې حساب شو؟ ښکاره خبره ده چې لپ ټاپ یا هم هره نوې لاس ته راوړنه د انساني مغز زېږنده ده او له مغزو زېږېدلی (نوی) د لومړي ډول نویوالي څخه نه دی. دلته هم ښاغلي تورمان هغه مفاهیم استعمال کړي، چې زرگونه ځله استعمال شوي، خو د استعمال ډول او وسایل یې نوي دي:

(اوس خو په کمنټ کې هم ښکارېږې نه
دومره اشاره کوې چې ښه لیکې
زه خو بس حالاتو مخته کړی یم
وایه مساپرې چې ته څه لیکې؟

په کمنټ کې نه ښکارېدل، له حالاتو نه خبراوی یا پر مقابل لوري د بې وفایي ټاپه ده، یا هم ترې گیله ده،چې ژر ژر پوښتنه نه کوي، چې دا هم په خپل ذات کې د بې وفایي یو ډول یا (کم وفایي) ده؛ نو کېدای شي په پښتو شاعري کې ډېر چا له بې وفایي سر ټکولی وي، خو په خپل وخت کې له خپلو وسایلو او د وړاندې کولو له طریقې سره او شاعر دا واک لري چې په خپله ځانته طریقه وټاکي، خو دغه (ټاکل) دا معنا لري، چې شاعر په خوښه غواړي په ذهن کې شته مفکوره دې (ټاکل) شوې لارې ته سمه کړي، چې کېدای شي، د شاعرۍ نړۍ ملا ته پرې تاوان هم ورسېږي، مگر د تورمان دغسې توره د ستایلو ده، چې نوي توکي یې په نوې طریقه شاعرانه کړي دي، چې پر مټ یې خپل (لید او د هغه په اړه د نوموړي غبرگون) تر موږ راورسوي. د دغسې نوې هڅې وړاندې کول په پوره باور تر الهام ډېره سلنه په ریاضت پورې تړلې ده. دلته شاعر ته د دې الفاظو نه، بلکې د دې نظر الهام شوی دی او  دغه الهام نظر څکه ځان په دې ډول الفاظو کې راښکاره کړ، چې شاعر؛ برق لري، انټرنېټ لري، فېس بوک لري او په فېس بوک کې مخامخ لوري ورته کومه اشاره کړې ده. دغه اشاره په تنکي ماښام کې د کلي په تنگه خره کوڅه کې د بلۍ له سره له اشارې سره توپیرلري.

د ښار له تصنع ډک ژوند ممکن ځوک په دې و نه ارزوي چې شاعرانه دې شي، مگر دغه (ځوک) باید پر دې قناعت وکړي، چې په ښار کې هم وگړي اوسي، هغوی هم احساسات او غوښتنې لري، چې شاعرانه کول یې دا توره کولای شي، چې موږ به د هغوی له انگېرنو نه په هنري ژبه خبر شو او دا بیا په اورېدونکي یا لوستونکي پورې اړه لري، چې مصنوعي صنعت څنگه بولي؟

موږ په ټول ژوندکې په پوره معنا نوې څه نه شو ویلای، د هر شي جرړه به یا ښه وي، یا هم بده، خو د دې تفصیلي شکل د ژوند په ټولو اړخونو کې پر بېلابېلو بڼو ښکارېږي. په پورته بېتونو کې پر مخامخ لوري دغه (تور) دی چې اوس نو په کمنټونو کې هم نه ښکارې، چې طبعاً که دغه لوری ترې خپه وي، نو د مخامخ لوري دې کار ته نسبتاً (بد) ویلای شو، چې دغسې د هرې پېښې جرړه همدې دوو اصلو ته رسېږي.

د تورمان په دې شاعرۍ کې نه یواځې ظاهري څېره بدله کړې، کله کله یې په ځینو شعرونو کې ډېر نوي او په ضمن کې په زړه پورې او خوندور پیغامونه هم نغښتي دي. لکه په (نوی فکر) کې. دغه شعر یې اصلاً نوی، لوی او په عین حال کې هنري بغاوت دی. په دې بغاوت کې د شعرونو له ځینو زړو سیمبولونو او یاد توکو په زغرده بغاوت شوی: منصور، خیام، زلفې، شونډې، حمزه ... ، شاعر د زلفو، شونډو...یادونه د ظاهري ښکلا ستاینه انگېري، په مقابل کې یې له عجیبه ښه منطقه کار اخلي

(زه د یار خوبې صورت کې لټوم نه
سیرت ښکلی نو صورت یې بویه ښکلی
زه د پلار په قومنده توره وهم نه
افرین الف سیده که زویه، ښکلی!)

مگر په دې شعر کې لوی ـ ښځې لوی ـ پیغام د هغه په وروستی کړی کې راغلی، چې په ټولنه کې د اکثریت له ذهنیته په نره بغاوت دی، د پورته څو کرښو د حسن اختتام په پار به د تورمان صیب همدا (نوی فکر) ولولو:

**نوی فکر**

نه خیام او نه منصور ته پکې ځای شته
خدایه! زما شعر ته یو نوی کرکټر را
چې له زلفو او له شونډو په کې خلاص شم
نوی فکر، سناریو را او اکټر را
زه نور سترې له گودر او له رباب یم
سمندرغاړې ته ناست وایلون مې سُر دی
چې له هر لوري یې گورې تصویر واکا
زما ذهن پاچا داسې انځورگر دی
چې پښه ناستې مې ده دا څمکه په ستایم
ستاله کلي او محل سره مې څه دي
که هایکو کې خپل پیکه یمه نو ښه یم
حمزه نه یمه غزل سره مې څه دي
زه د یار خوبې، صورت کې لټوم نه
سیرت ښکلی نو صورت یې بویه ښکلی
زه د پلار په قومنده توره وهم نه
افرین! الف سیده که زویه! ښکلی
هو پښتون یمه پښتو ده یوه ژبه
نو پښتو، پښتو به ولې زه کوومه
مینه ښه ده قام پالنه لېونتوب دی
انسانیت ترپښتونوالي لوړ گڼمه.

د مقالې پای

ضیاءالاسلام »شېراني«

# فردي لهجه

وړاندې له دې چې په فردي لهجه او د هغې پر څرنگوالي خبرې وکړم، غواړم چې لومړی د ژبې او خپله د لهجې په تعریف پوه شو ژبه تعریفوو.

**ژبه:** ژبه په واقعیت کې یوه ټولنیزه، اکتسابي او تړوني پدیده ده، نه عضوي، فطري او طبیعي. د ژبې پیدایښت د بشر د پیدایښت او د ټولنو او ډلو جوړېدو پورې اړه لري.

په عمومي توگه د ټولنې د افرادو تر منځ هر ډول وسیله او اړیکې ژبه بلل کېږي. که دغه اړیکې په اشاروي توگه وي او که د نښو یا نورو علایمو او لارو په توگه؛ خو ژبه په خاص مفهوم سره دیو لړ اختیاري وییزو او اوریزو سمبولونو مجموعه ده چې هر یو سمبول یې زموږ د ذهني انځور استازیتوب کوي. دا انځورونه د انساني چاپېریال او مهال څیزونه، ځانگړتیاوې، پېښې او کړه وړه اخلي او په دې توگه ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهولو او را پوهولو یوه آله او وسیله گرځي.

**لهجه ( گړدود Dialect)**

لهجه چې په پښتو کې یې گړدود او په انگریزي کې یې دیالکټ Dialectبولي اصلاً د یوناني ژبې له Dialkhtos له کلمې څخه اخیستل شوي چې د (وینا ډول ) معنا ورکوي.

لکه څنگه چې په نړۍ کې ژبې ډېرې دي، دغه راز ځینې ژبې د زیاتو لهجو لرونکې هم دي. لهجه له ژبې څخه راوتلې او په ټاکلې ټبر او ځانگړې جغرافیایي چاپېریال پورې اړه لري. لهجې د ځینو کلماتو په تلفظ او ویلو کې له اصلي ژبې سره توپیر لري.

په لنډه توگه ویلای شو چې گړدود یا لهجه د یوې ژبې هغه ځانگړې بڼه ده چې په یوې ټاکلې جغرافیایي سیمه، تاریخي دورې او ټولنیز پوړ یاقشر پورې اړه لري.

**فردي لهجه(Idialect)**

لکه څنگه مو چې پورته وویل چې ژبه د غږیزو نښو او علامو یو داسې کسبي، اتفاقي یا تړوني سیستم او مجموعه ده چې د یوې ټولنې وگړي یې یو له بله د پوهولو او راپوهولو لپاره کاروي.

په بله وینا : ژبه د یو لړ اختیاري وییزو اوریزو (acoustic) سمبولو یو سیستم او مجموعه ده چې هر یو سمبول یې زموږ د یوه ذهني انځور ښکارندویي کوي. دا انځورونه د انساني چاپېریال او مهال څېړنه، پېښې او گړه وړه را اخلي. په دې ډول کوم ځانگړې توپیرونه چې دیوې ژبې د ویونکو له خوا د ژبې د کارولو پر مهال لیدل کېږي، د هغې ژبې بېلا بېل گړدودونه دي.

په بله وینا د یوې ژبې هر ویونکی د دغې ژبې د یوه گړدود ښکارندویي کوي او یو له بل سره له بېلابېلو بیولوژیکي او جغرافیایي دریځونو په لرلو سره د هماغې یوې ژبې په استعمال او کارونه کې توپیر لري .مگر څنگه چې دا فردي توپیرونه په خپلو منځو کې دومره لرې نه وي، څکه نو دې هر یو ته موږ

# زېرى

علمي، څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۴۰۱ ل.کال، د تلې او لړم مياشتو ۱۳-۱۸ مه گڼې | پرله پسې ۴۰۴-۴۱۰ مه گڼه

**مسئول مدير:** څېړندوی لطف الله صابر

**مهتممه:** بي بي شفيقه نوري

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی لطف الله صابر، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز خپرنيز ارگان



**د اړيکې شمېره:** (+۹۳) ۷۷۷۴۲۴۳۴۰

**برېښناليک:** zerai۱۳۱٦@gmail.com

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار
کابل- افغانستان



● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

**د يوې گڼې بيه:** پنځه افغانۍ


## د عبدالرحمن بابا په شعرونو کې ...

خزانه په سخاوت سره زياتېږي
د کوهي اوبه چې اوباسي بسيار شي

همدارنگه بخل چې د سخا ضد واقع دی، عبدالرحمن بابا يې په اړه وايي

هر بخيل د خدای دښمن دی
ولو کان زاهدا

**۳. عدالت:** عدالت په لغت کې نظم، ترتيب او ادب مراعاتول او ساتلو ته ويل کېږي، انصاف درلودل، هرڅه په خپل ځای کې اېښودل، د افراط او تفريط ترمنځ متوسط حد، په مساويانه بنه وېش په معناوو هم کارول کېږي. عدالت يا دعدل اصطلاح د قانون په معنا ده، يعنې قانون پلي کولو ته عدالت وايي؛ د هر سړي يا هرې ټولنې حقوق پرځای کول او هغوی ته خپل مشروع حق ورکول او په حقوقو يې تېری نه کولو ته عدالت وايي. د عدالت په اړه عبدالرحمن بابا داسې وايي :

که بلنده مرتبه د چا په کار وي
لوی مقام دی عدالت په دا دنيا

او يا هم دابيت:

که څوک تله د انصاف په لاس کښې درکا
خپل ټټو او د بل اس به برابر کړې
تو لعنت دې په دا هسې منصفی شه
چې له حقه و باطل و ته گذر کړې
***
منصفانو لره بويه چې انصاف کړي
نه چې نغوته کړي د حرص او د هوا
چې نيکي بدي په تله کښې تلل شي
خود په خپله تله واخله عدالت کړه

**۴. عزت:** عزت په لغت سرلوړی اوسېدل، گرامي کېدل، درناوی، گرانښت، احترام او شرف ته وايي. د عزت په اړه عبدالرحمن بابا داسې وايي:

چې عزت حرمت يې نه وي په جهان کې
هغه هسې ژوندون وسوځه په اور
بې عزت سړی به خوښ د هېچا نه وي
مگر هسې بې عزت وي ځيني نور

بل ځای کې وايي:

چې له ابه له حرمته سره نه وي
خدای ورمه کړه وچا هسې سيم و زر
***
مړ بهتر دی ترهغه چې څوک بې پت شي
په ياری کې دې څوک نه کا خدای بې پته

**۵. ريا:** ريا د تظاهر، دوه مخي، ځان په په نيکو ښودل د حقيقت په خلاف، منافقت او داسې نور په معناوو کارول کېږي. ريا خلکو ته د ځان ښودلو په موخه ښه کار ترسره کړي، چې د خلکو ترمنځ اعتبار، مقام، منزلت او پوخوالی ومومي، که چېرې يو ښه کار کوي يا عبادت کوي د دې لپاره چې خلک هغه وستايي او هغه ته د نيک انسان په سترگه وگوري. ريا اخلاقي فضايل له منځه وړي او د انسان په ځان، زړه او روح کې د بديو بوټي کري او انسان له رښتينوالي څخه لرې کوي. ريا د انسان په بې لارې کې ده. ريا کار درې نښې لري :

۱- کله چې عبادت کوي او خلک يې وگوري نو د خوښۍ او پياوړتيا احساس کوي.
۲- کله چې عبادت کوي خلک يې ونه گوري نو خپه وي اود ستړيا احساس کوي.
۳ - د ريا کار سړي خوښېږي چې په کارونو کې د نور خلکو لخوا وستايل شي.

يوه مهمه خبره دا هم ده، چې په ځيني ځايونو کې چې تولنيز کارونه وي او اړتيا دا وي چې د ډېرو وگړو لخوا ترسره شي نو دلته دا کار ريا نه دی او برعکس اجر هم لري. د ريا په وړاندې د اخلاص صفت واقع شوی. د ريا په اړه عبدالرحمن بابا وايي :

عبادت دې په ريا شه
په مذهب کې بې مذهبه
***
دنيا بده د هغو ده
چې کسب وي د ريا
***
حق باطل کا، باطل حق کا
په سبب د روی ريا

او يا هم دابيت

د ريا خرقه يې خدای مه کړه په غاړه

رحمان کوړ دستار ترلی قلندر دی

**٦. غفلت:** غفلت د هېرېدل، هېرول، بې خبره پاتې کېدل، ناپوهي، نا داني، بې پروايي په معناوو دی يا دا چې د انسان په زړه او سترگو پرده وي او له يو حقيقت څخه بې خبره پاتې شي. غفلت يعنې له خدای(ج)، د خدای(ج) له آيتونو، له اخرت، له هر هغه څه څخه چې انسان د کمال مرتبې ته رسوي لرې وي. همدا چې انسان خپل اصالت هېر کړي، خدای(ج) ياد نه کړي، د هغه د نعمتونو شکر پرځای نه کړي غفلت دی. په قرآن کريم کې الله تعالی د غفلت له عواملو څخه يو هم دا ښودلی چې انسانان مادي او فني نړۍ حقيقي گڼي چې په زغرده اشاره يې اولاد او مال ته کړې ده. يعنې هرکله انسان په خپل مال او اولاد کې مصروف شي نو له حقيقي نړۍ څخه غافل کېږي. بل لامل يې پر انسان د شيطان غالبېدل ښودلی شوی دی. عبدالرحمن بابا د غفلت په اړه داسې وايي:

د غفلت له خوبه پاڅه
څو به اوسې خواب الود
مقيد او مشغول اوسه
په دعا او په درود
***
که دې ډېر عمرپه کاردی غفلت مه کړه
په ويده باندې سل کاله يو زمان شي
د غفلت بنياد د اوښکو په موج خېژي
يو څڅويکي خواب الود لره طوفان شي

**۷. خيراوشر:** د خير و شر په اړه عبدالرحمن بابا وايي:

ناکرده سودونه ډېر دي په جهان کې
سود هغه وي چې د خير وي نه د شر

**۸. قناعت:** د قناعت په اړه عبدالرحمن بابا وايي :

هغو بيا موند سعادت په دا دنيا
چې يې وکړ قناعت په دا دنيا

اويا هم دابيت

چې کيميا د قناعت يې په لاس کښېوځي
د شريه په خرقه کې پادشاهان شي
***
لوړه تنده نشته د قانع په قناعت کې
دا کيميا چې زده په خرقه کې امراوي

**۹. د دنيا بې وفايي:** د دنيا بې وفايي په اړه عبدالرحمن بابا وايي :

دا دنيا ده بې وفا
بې وفا ده بې بقا
***
په دنيا کې خوب هغه کا چې نادان وي
هغه ژوي چې هوښيار وي څه به خوب کا
کوم طالب مطلوب موندلی دی په خوب کې
هغه څوک چې طلبگار وي څه به خوب کا
***
چې اميد په امارت د دې جهان کا
لکه کرښه د اوبو هسې نشان کا
د اوبو په مخ د کرښې بقا نشته
په نابود باندې ناحق د بود گومان کا
***
په يوه گړۍ بهار وي بيا خزان شي
بقا نه لري بهار د دې دنيا

**۱۰. د وخت ارزښت:** د وخت ارزښت په اړه عبدالرحمن بابا داسې وايي :

تر ورخ تېرې اوبه بېرته نه جاروځي
نه جارو وځي تېر ساعت په بېرته بيا

اويا هم دا بيت

که مقصود لرې تلوار کړه وخت کوتاه دی
غره مه شه د دې عمر په بقا

**۱۱. غرور:** د غرور او خود بينۍ په اړه عبدالرحمن بابا وايي :

که خودبين وي ته به يې څه کوې رحمانه
د خودبينو سزا خپله خودي بس کا
***
هره نخښه چې صحيح گڼې په زړه کې
په غرور په دغه نخښه کړې خطا

يا هم دا بيتونه

سرهوا سرهوا مه څه و اسمان ته
ته په اصل کې له ځمکې يې پيدا
***
له لويۍ له سرکشۍ زما توبه ده
خدای څوک مه کړه د اسمان په خير نسکور
***
په لويۍ کې نور څه نشته له زواله
هلکان د هلک توب په سبب لوی شي

**۱۲. اخلاص:** د اخلاص په اړه عبدالرحمن بابا وايي:

څه عجب بلند مقام دی د اخلاص
چې جهان واړه غلام دی د اخلاص

يا هم دابيتونه

که له ځمکې و اسمان ته خاته گران دی
دا سفر په يوه گام دی د اخلاص
***
بې اخلاصه د اسلام حلاوت نشته
که أسلام دی خو اسلام دی د اخلاص
***
پس له مرگه به دا مهر و اخلاص نه وي
که اخلاص کړې نن هنگام دی د اخلاص

**۱۳. ظلم او ستم:** عبدالرحمن بابا د ظلم او ستم په اړه وايي :

که دې وېره شي له ظلمه له ستمه
ته هم مه کړه په هېچا باندې ستم

بل ځای وايي:

په آزار دچا راضي مه شه رحمانه!
که خلاصي په قيامت غواړې له عذابه
***
ادم زاد په معنی واړه يو صورت دی
هر چې بل ازاروي هغه ازار شي

**۱۴. مهربان:** د رحم او مهربانۍ په اړه عبدالرحمن بابا وايي :

که اميد لرې له رحمه له کرمه
ستا هم بويه په هر چا باندې کرم

**۱۵. اسراف:** د اسراف په اړه عبدالرحمن بابا وايي:

ټوک روټۍ يوه شړۍ درلره بس ده
نور همه واړه اسراف دی مسلم

**۱٦. د سولې او نفاق:** عبدالر حمان بابا د سولې او نفاق په اړه داسې وايي :

خدای امان راکړه له هسې زنده گۍ
چې ته بد وايې له بله بل له تا
زهر ښه وي چې په صلح او صلاح وي
نه شکرې په فتنه او په غوغا

عبدالرحمن بابا د خپل شعر او شاعرۍ له مخې د خپل وخت يو داسې شاعر دی، چې هر اړخيز شخصت لري. د ده شعرونه د پيغام له مخې يوازې يو قوم لپاره نه بلکې ټولو خلکو او ټولو انسانو لپاره دي. دی خپل د شعرونو په مرسته انسانو ته د ژوند د مينې خوند ښودلی، ځکه نو د ده د شاعرۍ مينوال يوازې پښتانه نه، بلکې د نړۍ ډېر خلک دي. عبدالرحمن بابا يوازې د تصوف او الهي مينې شاعري نه ده کړې، ده د ژوند په هرې برخې شاعري کړې او پرې ښه برلاسی هم دی. عبدالرحمن بابا ته متصوف شاعر هم وايي او دی په تصوف کې پوخ لاس لري په الهي مينې کې يې ډېر شعرونه ويلي. د ده د شاعرۍ يوه ښه ځانگړنه دا ده چې متصوفين ترې د الهي مينې خوند اخلي او عوام ترې په خپلو ورځنيو چارو کې د مجازي مينې خوند اخلي، لکه چې وايي :

لاس د عقل و اسمان ته نه رسيږي
دا خو عشق دی چې په عرش کرسي قدم ږدي

يا وايي :

که چا لار د عاشقۍ وي ورکه کړې
زه عبدالرحمن د گمراهانو رهنما يم

عبدالرحمن بابا د تصوف، عشق او عاشقۍ ترڅنگ د ژوند د کتاب هېڅ يوه پاڼه تړې نه ده پاتې شوې، په هر اړخ يې سترگې غړولي او خواږه ترخه يې په گوته کړي. بدۍ يې غندلي او په خوبۍ يې ټينگار کړی. د ده کلام له حرص، کينې او بغض څخه خلاص، له اخلاص څخه ډک دی، لکه چې وايي :

د عبدالرحمن کلام په دا سبب شيرين دی
چې يې هر کلام کلام دی د اخلاص

عبدالرحمن بابا په شعرونو کې ټولنيزو او اخلاقي پيښو ته هم په زغرده اشاره کړې ده چې د هغه د ژوند د تجربو، د اسلامي پوهې، مينې او خلکو سره د خواخوږۍ ښکارندوي کوي.تل يې په خپلو شعرونو کې خلک د انسان دوستۍ لپاره هڅولي او دا کوښښ يې کړی چې انسان يو بل ته مهربانه وي او له خپل هم نوع سره مرسته وکړي لکه چې وايي :

که بل بد کاندي ته ښه ورسره وکړه
هر يو نخل چې مېوه لري سنگسار شي

يا هم دا بيتونه:

کر د گلو کړه چې سيمه دې گلزار شي
اغزي مه کره په پښو کښې به دې خار شي
ته چې بل په غشو ولې هسې يوه شه
چې هم دا غشي به ستا په لور گزار شي

لکه څنگه چې مو مخکې اشاره وکړه عبدالرحمن بابا د ژوند په هر اړخ شعرونه ويلي نو دا د دې ښکارندوي کوي چې بابا په ټولنه کې اوسېده د خلکو په ستونزو ښه خبر و، هڅه يې کوله چې د هغو ستونزو ته د شعر له مخې حل لاره وړاندې کړي. دلته هغه نظر لړ د تعمل وړ دی چې ځيني خلکو ويل عبدالرحمن بابا صوفي او تارک دنيا شاعر و، ځکه که هغه تارک دنيا و نو دومره د ټولنې له منځه خبر څنگه و او دومره ټولنيزه شاعري به يې نه کوله. زه هم د عبدالرحمن بابا په هغه بيت خپلې موضوع ته د پای ټکی ږدم چې په کَلي ډول د بابا په ټولنې کې د اوسېدو او د دې نظريې د ردېدو ښکارندويې کوي بابا وايي:

هغه زړه به له طوفانه په امان وي
چې کښتی غوندې د خلقو بار بردار شي


**ماخذونه**

**۱. خليل، حنيف.د عبدالرحمن بابا کليات، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۴ل کال.**
**۲. عميد، حسن، فرهنگ عميد، تهران: چاپخانه سپهر، ۱۳۸۷ل کال.**
**۳. مشواني، عبدالقيوم زاهد: زاهد پښتو—پښتو سيند، دانش خپرندويه ټولنه، کابل، ۱۳۹۱ل کال.**
**۴. هوتک، محمد. پټه خزانه، د دارالتاليف رياست، د پوهنې وزارت، ۱۳۳۹ل کال.**
**۵. هېواد مل، زلمی. د پښتو ادبياتوتاريخ( لومړی ټوک)، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور. ۱۳۷۹ل کال.**
**٦. (؟). رحمن پوهنه ( دويم ټوک)، رحمن ادبي جرگه، پېښور، ۱۹۹۹ع کال.**
**۷. ساپی، عادله. عبدالرحمن بابا او د سبک پيروان يې، (درسی لکچرنوټ). کابل:**
**۸. انټرنټي سايټونه .** / د مقالې پای


# فردي لهجه
## (پاتې برخه)

ديالکت نه بلکې ايدياًلکت Idiolect يا فردي لهجې وايو او په دې ډول له دغو فردي ايدياًلکتونو هماغه ډلې په پام کې نيسو چې يو راز گډ سيمه ييز يا ټولنيز خصوصيات ولري نو همدا علت دی چې وايو د پلانۍ سيمې، ډلې يا ټبر گړدود.

ښاغلی حبيب الله تړی په خپل اثر (نوي ژبپوهنه او ژبني مسايل ) کې په دې اړه وايي، چې په نوې ژبپوهنه کې سربېره پر تشريحي ژبپوهنه چې د يوې ټولنې د ژبې جوړښت او ساختمان په يوه ټاکلې دوره کې مطالعه کوي، خو د افرادو او بېلابېلو ډلو په ژبنيو توپيرونو او د هغوی په تشريح سر نه خوږوي، يوه بله اصطلاح هم کارول کېږي او هغه سنکرانيک ژبپوهنه ((Synchronic Linguisties)ده. دا ځينې نور مسايل او د هغو څېرنه هم په پام کې نيسي، چې له هغې ډلې څخه سنکرانيک لهجه پېژندنه (Synchroni) Dailectology) ده. د ژبپوهنې دا څانگه د افرادو او بېلو ډلو ترمنځ د ژبني عادت توپيرونه په منظم او سستماتيک ډول مطالعه کوي. په دې بحث کې ترټولو لومړنی د پام وړ ټکی »فردي لهجه «ده، چې ژبپوهان يې د ايدياًلکټ Idiolect په نامه يادوي او دا په يوه ټاکلې دوره کې د يوه خاص شخص د گړنيو عاداتو له مجموعي څخه عبارت دی.

که د بېلگې په توگه موږ په پښتو ژبه کې د وردگو لهجه په پام کې ونيسو. له يوې خوا د پښتو ژبې له نورو لهجو سره توپير لري؛ خو بل لور ته خپله د همدغې لهجې د بېلابېلو ويونکو تر منځ هم د وينا په ډول کې توپير ليدل کېږي. يعنې هغه وردگ چې له خپلې اصلي ټولنې څخه بهر په نورو بېلابېلو ټولنو کې چې مختلف گړدودونه او ژبې لري اوسېدلی وي او يايې زده کړه کړې وي، نظر هغه وردگ ته چې تل په خپل اصلي کلي او ټولنه کې اوسېدلی وي يوه جلا لهجه يا د وينا ډول کاروي، چې نه سوچه د وردگو لهجه کېدای شي او نه هم پوره بله لهجه. يا که بيخي يې را محدود کړو او يوې کورنۍ ته نظر وکړو، د يوې کورنۍ د غړو د لهجو ترمنځ هم، سره له دې چې دوی به له اړه په يوه لهجه پورې اړه لري؛ خو هر يو به يې ځينې داسې گړنې يا جلا جلا اصلاحات کاروي چې د کورنۍ له بل غړي سره به توپير لري. چې همدا د يوې ژبې د يوې واحدې لهجې د بېلابېلو ويونکو د وينا بېلابېل ډول فردي لهجه يا ايدياًلکټ Idiolect بلل کېږي.


**ماخذونه**

**۱. خوېشکي، پوهاند محمد صابر، پښتو غږپوهنه او وييپوهنه، ختيځ خپرندويه ټولنه، ننگرهار، ۱۳۹۲ ل کال ،۷ مخ.**
**۲. تړی، حبيب الله، نوې ژبپوهنه او ژبني مسايل، دانش خپرندويه ټولنه، کابل، ۱۳۸۹ ل کال.**


**سراج احمد حبيبي**

# قبض او بسط

قبض په تصوف کې د صوفي د روح درېدلو او بسط يې غوړېدلو ته ويل کېږي.(ناگار، ۱۳۸۸: ۴۸) دا دواړه حالتونه په تصوف کې د صوفي روحي او رواني کيفيت څرگندوي او دواړه هغه حالتونه دي، چې له صوفي سره په تصوف کې د شامليدو له لومړۍ مرحلې نه نيولې او آن د هغه د مرگ تر وخته پورې ملگري کېږي، خو دا ملگرتيا يې داسې نه وي چې هر وخت وي او صوفي د ژوند هره شېبه يا د قبض په حالت کې تېروي او يا هم د بسط؛ بلکې کله نا کله هغه هم په هغه حالت کې ورسره مخ کېږي، چې صوفي د ژوند په ډگر کې د دې دواړو حالتونو د ايجادوونکو لاملونو سره مخ شي.دغه ايجادوونکي لاملونه يې بايد هر صوفي او سالک وپېژني، د قبض د رامنځته کوونکو لاملونو څخه بايد د خپل توان تر حده ځان وژغوري او د بسط رامنځته کوونکو لاملونه سره بايد ځان مخامخ کړي. خو دا چې دا ژوند دی او په ژوند کې انسان چې هر څومره ډېر کوښښ وکړي، نه شي کولای چې د هر څه واگې په خپل لاس کې واخلي، نو ځکه به ضرور ترې يوه تېروتنه کېږي او هغه تېروتنه به د ده د ډېرو داسې کارونو د خرابېدو لامل کېږي، چې ده پرې کلونه کلونه زحمت ايستلی دی.په تصوف کې هم همداسې کېږي، يو صوفي چې ډېر وخت يې عبادتونه کړي وي او پر ځان يې شپه او ورځ يوه کړې وي او بيا د دغو عبادتونو په نتيجه کې روحي سکون او اطمينان ورته پيدا شوی وي، په يوه عادي تېروتنې سره به يې دا سکون او اطمينان له روح څخه ولاړ شي، دغه تېروتنه به تر ډېره داسې هم نه وي چې واک او اختيار به يې د صوفي په خپل لاس کې وي. که چېرې يې واک او اختيار د صوفي په خپل لاس کې واى، هغه به هېڅکله هم پر خپل ژوند باندې داسې غم او پرېشاني نه واى راوستې. دغه ډول حالت، خو حتی کله کله صوفي بېخي د ځان وژلو په فکر کوي، خو هغه په هغه وخت کې چې دا د قبض حالت يې ډېر دوام وکړي او يا بېخي له خپل کنټرول څخه ووځي. په دغو حالت کې د تصوف لوی لوی بزرگان او مرشدين له قبض څخه د وتلو تر ټولو غوره لار دا گڼي، چې سالک ژر تر ژره خپل پير يا مرشد ته ځان ورسوي، د هغه سره پخپله خانقاه او دېره کې څو شپې او ورځې تېرې کړي، تر څو له دنيوي غمونو او ناکردو څخه يې زړه آرامه شي او بېرته په ډاډه زړه د الله سبحانه وتعالی ذکر او عبادت ته ور وگرځي. خو کله کله داسې هم کېږي، چې د خپل پير او مرشد په ليدلو او د هغه سره پر صحبت هم د سالک قبض نه ماتېږي، په داسې حالت کې بايد د ځينو لويو لويو اولياءالله زيارتونو ته ولاړ شي او هلته د څو شپېو لپاره پر خپل ذکر او فکر لگيا شي او دغه راز بايد د قبض له پيله د استغفار پر ويلو پيل وکړي. ځکه حضرت خواجه يعقوب چرخي(رح) فرمايي: چې ما ته به حضرت شاه نقشبند(رح) د بسط په وخت کې د شکر ايستلو حکم کاوه او د قبض په حالت کې به يې د استغفار کولو. نور قبض او بسط دواړه د خدای تعالی په لاس کې دي، هېڅوک هم بايد ډېر ورته پرېشانه نه شي، د هغه تبارک وتعالی خوښه ده، چې چاته د بسط حالت ور پېرزو کوي او چاته د قبض؛ د علي محمد مخلص يو بيت دی:

قبض و بسط د حق په لاس کښې دي باور کړه
دغه زړه که با نوا که بې نوا شي


**مأخذونه**

**۱ - دادمحمد. (۲۰۱۱). مقدمه التصوف. کابل: جامعه ضياء المدارس، د علم او عرفان خپرندويي ټولنې تخنيکي څانگه.**
**۲ - مخلص، علي محمد. (۱۳۹۴). ديوان. د محمد هارون خپل شعشعي اوډنه، سمونه، مقابله، سريزه، لمنليکونه او لغوي زېرمه. کابل: د اطلاعات او فرهنگ وزارت.**
**۳ - ناگار، فضل ولي.(۱۳۸۸). عرفان او د پښتو ادب په لرغوني دوره کې يې څرکونه. ننگرهار: ناگار خپرندويه ټولنه.**